انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۱/۲۰

# زمانشاه ـ رنجیت سنگهه، نجیب ـ دوستم او غنی ـ عطا نور

وایی چی تاریخی پیښې کله ناکله په یوه بله بڼه تکراریږی. کله دا سره ورته پیښې په یوه لنډه زمانی موده کی او کله بیا په یوه اوږده واټن کی د بیلو بیلو کرکټرونو تر منځ ، تر ډیره حده په سره ورته توګه تکرار مومی. زما په اند زمونږ په افغانی تاریخ کی داپورته پیښی سره ډیری نژدی بریښی، په لنډه توګه به یی وڅیړو:

۱ـ زمان شاه او رنجیت سنګهه: زمان شاه یا شاه زمان د لوی احمد شاه بابا لمسی او د تیمورشاه پنځم زوی دی. په (۱۷۷۰م) کال کی زیږیدلی او د پلار له مړینی وروسته په (۱۷۹۳م) کی یی شاهی تاج په سر کیښوده. ډیر ورونه یی درلودل او ډیرو غوښتل چی پاچا شی، تر ټولو مقتدر یی محمود و. زمان شاه هغه د سردار پاینده خان بارکزی په مرسته له هرات نه ایران ته وشاړه.

کله چی د کورنیو تهدیدونو نه لږ وزګار شو نو دوه هڅی یی پیل کړی: یوه دا چی خپله خوره وره کورنی سره را ټوله کړی او دویمه داچی د خپل پلار نیکه امپراطوری تر خپل کنترول لاندی راولی.

لومړی هدف یی له دی کبله چی کورنی یی ډیره ډیره خوره وره وه او خپل منځی مناسبات یی هم ښه نه وو پوره نه شو کړلی. د دویمی مطلوبی د پاره یی په ټولو ولایاتو کی خپلو وفادار دوستانو ته قدرت په لاس ورکړ. په همدی تقسیماتو کی یی د پنجاب د لوی صوبی مشر د سیمی یو مشهور سردار رنجیت سنګهه و ټاکه. یو څو موده وروسته کله چی رنجیت سنګهه ته خبر ورسیده چی د زمان شاه ورور شاه محمود د وزیر فتح خان په ملتیا د کابل په لوری راروان دی نو ده هم بغاوت وکړ او د پنجاب صوبه یی له مرکز کابل نه بیله کړه، او په دی توګه یی د زما ن شاه دولت ته د سقوط زمینه برابره کړه . زمان شاه هم د ورور محمود په مقابل کی د ماتی سره مخامخ شو ، غوښتل یی چی پیښور ته و تښتی خو موفق نه شو. محمود هغه ونیوه په سترګو یی ړوند کړ او په بالاحصار کی بندی کړ. تر آزادیدو وروسته هغه هند ته و خوزیده او رنجیت سنګهه د هغه سره دا میرانه وکړه چی هغه ته یی پناه ورکړه او په لودیانه کی یی ورته د پاتی ژوند تیرولو زمینه برابره کړله.(دا څوکرښی صرف یوی یادونی په توګه دی کره تاریخی ټکی نه دی.)

۲ ـ نجیب او رشید دوستم: ډاکټر نجیب الله د ۱۹۸۷م کال نه تر ۱۹۹۲ م کاله پوری په افغانستان کی د شوروی پلوه دولت جمهور رئیس و. نجیب په داسی حالاتو کی د شوروی دولت له لوری قدرت ته ورسول شو، چی تقریباً نیم افغان ولس د روس ـ افغان دنظامی بی سنجشه عملیاتو له امله له ملکه مهاجر شوی و، تقریباً د هیواد د ټولو ولایاتو

ولسوالی د امریکا، عربی هیوادونو او گاونډیو هیوادو ایران او پاکستان په مستقیمو او غیر مستقیمو مرستو سره د وسله والو مخالیفینو (مجاهیدینو) په کنترول کی وی. په هر ولایت کی یواځی د ولایت مرکزونه د دولت په لاس کی وو، مرکز کابل ته ټولی لاری بندی وی، روسانو هم د ژنیو د توافقاتو په مرسته له افغانستان نه خپلی پښی سپکی کړی وی، په ښارونو کی خلک د سختو ستونزو سره مخامخ وو او د نجیب دولت هم د سخت فشار لاندی وو. په همدی حالاتو کی نجیب د خپل قدرت د ساتنی د پاره د ازبیک ملیشې مشر جنرال رشید ته د نامحدودو امتیازاتو په ورکولو آن تر دی حده چی عوامو هغه ته د (دوستم پاچا) نوم ورکړی و، ډیر اختیارات ور کړل او د هغه د وسله وال ملیشائی ځواک څخه یی د افغانستان په جنوب کی چی د مخالیفینو (مجاهیدینو) د فعالیتونو ستره ساحه وه، د زپلو او ټکولو د پاره کار واخست. رشید دوستم په دی سیمو کی د چنگیز خان تاریخی کړه وړه خلکو ته ورپه یاد کړل او په هیڅ یی رحم ونه کړ، ښځی او ماشومان یی د نارینه و سره یو ځای په کتلوی توگه له منځه وړل او د هر عملیاتو په مقابل کی د نجیب نه انعامونه او امتیازونه ا خستل. نجیب هم له ده کم نه و او هره ورځ یی د پښتنو په سیمو په لسگونو د سکاټ تو غندی ورل او په دی توگه یی پاچا هی ته ادامه ور کوله.

ماته ډیر ښه راپه یاد دی چی ډیرو پوهانو، مشرانو، د نجیب دپلار او خپله د نجیب دوستانو د هغه سره د ملاقات په وخت کی هغه ته مشوره ورکوله چی دوستم تردی حده مه درنوه چی بیا یی د کنترول نه عاجز پاتی شی او د سردار رنجیت سنگهه په څیر چی د زمان شاه پاچاهی یی نسکوره کړله، ستا د زوال سبب جوړ شی. خو نجیب دا مشوری له دی کبله نه شوی منلئ چی د ده د ملی روغی جوړی د پالیسی سره د پخوانی پاچا په گډون په پاکستان او ایران کی د جوړو شوو تنظیمونو ټولو ډلو مخالفت کړی و، نو ده به استدلال کاوه چی بی له دی چی دوستم په لاس کی و نیسی بله چاره نه لری.

کله چی د نجیب سره د هغه د استاد ببرک کارمل د ډلی ټپلی اختلافاتو زور واخست او د احمدشاه مسعود سره یی اړیک را منځ ته شوی او جنرال مومن د نجیب په وړاندی بغاوت وکړ نو دوستم ته هم د گزار زمینه برابره شوه. په جبل السراج کی دری اړخیزه (مسعود+کارمل+دوستم) تړون را منځ ته شو، د ملگرو ملتو د استازی بینین سوان د سولی پلان ناکام شو، نجیب هم د زمان شاه په څیر غوښتل چی و تښتی خو دوستم یی مخه ونیوله، هغه د ملگرو ملتو دفتر ته پنا یوړه څلور کاله هلته بندی پاتی شو، ملگرو ملتو هم ونه شو ساتلی او بلاخره د ۱۹۹۶م کال د سپتمبر په (۲۷) نیته د پاکستانی طالبانو له خوا د خپل کشر ورور سره یوځای په دار وځړول شو.

۳ ـ غنی او عطا نور: ډاکتر اشرف غنی همدا اوس د افغانستان جمهوررئیس دی. نوموړی د حامد کرزی نه وروسته په ۲۰۱۴ م کال کی د جنجالی انتخاباتو نه پس د متحده ایالاتو د خارجه چارو د وزیر جان کیری پهمنځگړیتوب د جمهوری ریاست مقام ته ورسیده. د ده حریف ډاکتر عبدالله چی د ټولو جهادی تنظیمونو شریک کاندید و، د اساسی قانون په خلاف د اجرایه رئیس (صدراعظم) په توگه د یوه ځانگړی پروتوکول په نتیجه کی و منل شو. ډاکتر غنی احمدزی هم د خپل کاکا دزوی ډاکتر نجیب الله احمدزی په څیر د جمهوری ریاست د مقام گټلو د پاره د ستر جنرال رشید دوستم (چی لا د مخه ورته حضرت مجددی د خالد بن ولید لقب هم ورکړی و) په اوږو لاسونه کیښودل، هغه یی خپل لومړی معاون ونیوه او دده تر څنگ یی د مصنوعی ملی قهرمان احمد شاه مسعود ورور ضیا مسعود چی تر ده وړاندی جناب حامد کرزی په خپلو اوږو کښینولی و هم په څنگ کی و نیوه. کله چی غنی جمهور رئیس شو نو

هغه یی د ښی حکومتداری د پاره وټاکه او په دی توگه یی پیشو ته د غوښی د ساتلو وظیفه ورکړله. د غنی نه په دی کار سره د هغه د ټیم ډیر ملگری خپه شول او هغه ته یی و ویل چی (ازموده را ازمودن خطا ست) خو هغه استدلال کاوه چی «مهارت په دی کی دی چی دا ملک په هماغه چا ودان کړو چی وران کړی یی دی» غنی جمهور رئیس شو، عبدالله عبدالله صدراعظم شو، دوستم د غنی لومړی معاون شو او محقق د عبدالله دویم معاون شو. دغنی اجرات چی دوستم او ضیاء مسعود په خپله گټه و نه لیدل نو د غنی سره یی اختلافات پیل کړل.

دوی په تیرو دری کالو کی په دی بریالی نه شول چی حکومتی کابینه تکمیله کړی. خود سری دی حد ته ورسیدلی چی دولتی مامورین هم دی ته غاړه نه ږدی چی د ځان په تبدیلی کی د جمهور رئیس او یا صدراعظم امر ومنی. دولت کاملاً د یوه سهامی شرکت بڼه غوره کړه او د لومړی وار د پاره د نظام د سقوط ښکاره هلی ځلی د همدی دولتی چاروا کو (دوستم، محقق، عطا نور) له خوا په ترکیه کی د یوه تړون په اساس را پیل شوی.

له دی دری اړخیزه تړون وروسته چی عیناً د ۱۹۹۲م کال د جبل السراج تړون ته ورته و، هلته لومړی بغاوت د بلخ ولایت د حیرتان له ښارگوټی څخه دجنرال مومن له یاغیتوبه پیل شو او دا کرت هم له هماغه ولایت د مرکز د مزار شریف له ښارنه د مومن د بل ورور جنرال عطا نور له لوری را پیل شو. ماته دا دواړو بغاوتونه بلکل یو ډول ښکاری ځکه:

ـ د هغه بغاوت ترشا هم یو پرځیدلی جمهور رئیس ببرک کارمل لاس درلود او د دی بغاوت تر شا هم یو له واکه په قانونی توگه لری شوی جمهوررئیس حامد کرزی لاس لری.

ـ له هغه بغاوت نه هم ځینو محلی قوماندانانو او له مقام نه گوښه شوو عناصرو ملاتړ کاوه او له دی بغاوت نه هم د مقام نه د فساد له کبله لري شوی او ورسره محلی زورواکان،داړه ماران،مفسیدین،غله اود ملی شتمنیو چپا ولگران ملاتړ کوی چی ښه نمونه یی مونږ د جنرال رازق په میلمه پالنی سره په کندهار کی ولیدله.

ـ هغه بغاوت هم د دی د پاره تر سره شو چی د بینین سوان د سولی او د نجیب د ملی روغی جوړی پلان د ناکامی سره مخ کاندی او دا بغاوت هم د دی دپاره ترسره کیږی چی د امریکی د فشار له کبله باید پاکستان د تروریستی ډلو له حما یی نه لاس واخلی او وسله وال دی ته مجبور کړی چی د دولت سره د سولی مخامخ خبرو ته حاضر شی. که زمونږ سیاسی مفسرین دا موضوع لږه په دقیقه توگه و څیړی زه پوره باور لرم چی د دی دواړو بغاوتونو تر منځ به نور هم ډیر دقیق و جوهات و مومی چی دواړه د واحد، باثباته، مستقل او د فساد نه د خالی افغانستان د جوړیدو سره د مخالفت او د شخصی جرمونو نه د خلاصون په غرض را منځ ته شویدی. دا چی نتیجه به یی څه را وزی انتظار باید پاتی شو.

پای

جنوری ۱۹/ ۲۰۱۸

تورنتو ـ کانادا